انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۱/۲۴

# د یرغلګرو او شاته تلونکو حاکمیت

## د دا یمي نا امنی او بی ثباتی لامل

### او د سولی په لار کی همیشنی خنډ!

په نړی کی موجود حاکم نظام چی د زور چلوني او زور ازمایلو پربنیاد ولاړ دی ، بی له شکه د بشری ټولنو د پر مختلونکی تمدن د حرکت په مخالف جهت کی قرار لری. د دی نا معقول او ناسم نظام چلونکی نه یوائی هره ورځ په نړیوال بشری جوړښت کی د نوو ستونزو د را منځ ته کیدو سبب ګرځی او د سالم پر مختګ په لار کی خنډونه جوړوی بلکی ډیره بده لا داده چی د همدی پر مختلونکی متمدن بهیر له محصولاتو نه ګټه پورته کوی او د پر مختللی تکنالوجی په مرسته د اړیکو او معلوماتو ټولی شبکی داسی د ځان په ګټه استعمالوی چی په اسانۍ سره خپلو هدفونو ته ځان ورسوی او د نړی په هر ګوټ باندی کنترول تر د لاسه کړی. د متمدنی نړۍ انسان چی په روانو حالاتو کی د بل هرڅه نه، په هره ټولنه کی ثبات او امن ته زیاته اړتیا احساسوی او د بشری ټولنو د لا ښه پر مختګ او پیاوړتیا د پاره د انسانانو تر منځ د سوله ایزو او دوستانه اړیکو جوړښت ته لومړیتوب ورکوی، په دی ډیر ښه پوهیدلی دی چی، تر بل هرڅه نه دی سترو انسانی ارزښتونو ته د زور چلونکی استبدادی حاکم نړیوال نظام، نظامی حکمرانان چی په سر کی یی د متحده ایالاتو زورواکی قرار لری ، د خپل پر مختللی جنګی ماشین په ذریعه زیان او تاوان رسوی او نه پریږدی چی د نړی مجبور او بی وسیلی انسانان د دوی د استثماری حلقی څخه بیرون آزاد او په خپلو متو متکی ژوند وکړی. که چیرته د دنیا په کوم ګوټ کی کومه داسی انسانی ډله پیدا شی چی د دی استبداد په وړاندی سر را پورته کړی او په دی تلاش کی شی چی دا زور چلونکی هم باید د نورو انسانانو په خیر یو سلسله قیوداتو ته غاړه کیدی او د خود سریو نه لاس واخلی نو بیا لومړی دا ډول کسان یا ډله د هغو جمعی رسنیو له لاری چی د دوی په واک او اختیار کی دی په داسی ناوړو نومونو یاده وی او په داسی عملونو یی تورنوی چی متمدن انسان ورنه کرکه لری. تردی تور پوری کولو وروسته بیا بی له ویری په آزاد لاس د خپل پوځی ماشین څخه د لکه د لری واټن ویشتونکی رهبری شوی راکټونه، د تخریب نور کیمیا وی او بیالوژیکی محصولات، د بی پیلوټه طیارو په مرسته بمباری او نورو پر مختللو جنګی وسایلو نه کار اخلی او نه یوځی خپل مخالفین له منځه وړی بلکی د هغوی سره په څنګ کی د هغی سیمی بی ګناه لوی او واړه، سپین ږیری او ماشومان چی د دوی په چم ګاونډ کی ژوند کوی هم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ورسره له منځه وړی او په دی توګه په هغی ځمکی چی دوی پکی دیره دی هم داسی د اور ګذارونه کوی چی تر ډیرو کلونو پوری د حاصل ورکولو نه پاتی کیږی.
د نړی موجودو زور واکو چلونکو د خپلو ستراتیژیکو هدفونو د تحقق د پاره ناتوانه او کمزوری هیوادونه او سیمی دداسی کورنیو شخړو، جګړو، فتنو او فسادونو سره مخامخ کړیدی چی د نابودی، تجزیی او ورکاوی حالت ته ور نژدی شویدی. که سړی د دی جګړو، آشوبونو او وینی تویه ونی ظاهری عاملینو ته ګوری نو داسی فکر کوی چی دا حالت په دی مشخصه ټولنه باندی د همدی ټولنی خپلو غړو را وستی او هم دوی دی چی د خپلی ټولنی د بربادئ او تباهی د پاره د مبارزی میدان ته را وتلی دی.
خو حقیقت داسی نه دی، که پوښتنه وشی چی ولی د یوی ټولنی پوری مربوط غړی یو بل وژنی، خپل کلی بانډی، ښارونه او سړکونه، پلونه او بندونه او نور اونور په خپلو لاسو ورانوی او په لوی لاس خپل ځانونه د نابودئ کندو ته غورځوی؟ ځواب ډیر ساده او آسان دی او هغه دا چی: زور چلونکی نظامی قوتونه د خپلو نورو صنعتی محصولاتو تر څنګ دی نادارو ټولنو او نیستمنو هیوادونو ته جنګی آلات او افزار هم ورکوی، مفت یی نه ورکوی وربانډی خرڅویی، او پیسی ورته د ګټی سره  په پور حسابوی. د دی تر څنګ دوی که یوه ډله داسی تر خپل تاثیر لاندی راولی چی د هغوی سره نیغی مرستی کوی، نو بله ډله بیا د خپلو دلالانو په ذریعه د هغوی د احساساتو له مخی داسی کنترولوی چی د لومړی ډلی څخه چی د دوی پیروان دی د هغوی په زړونو کی کرکه وزیږوی اوداسی یی تحریک کړی چی، که دوی د خپل دین و آئین ساتنه ونه کړی نو هرڅه به د لاسه ورکاندی، نه به ورته ملک پاتی شی او نه به ورته تاریخ او هویت.  دی زور چلونکو په هم دا پرون کی دا کار هم دشمالی افریقا په هیوادونو لیبیا اوتونس  کی وکړ، هم یی په منځنی حتیځ کی په عراق او سوریه وکړ او هم یی زمونږ په هیواد افغانستان کی وکړ اغو  لاهم لګیادی په ټول توان سره د دریمی نړی په هیوادونو کی ګډودئ را منځ ته کوی.
زمونږپه هیواد باندی د امریکا په مشری د ناتو حمله د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر نه راپیل شوی او تر ننه ادامه لری. دوی چی کله د بن په توافقاتو کی  د پخوانی پاچا له ډلی او د طالبانو د ضد جهادی قوتونو نه له اوږدو خبرو او بحثونو  نه وروسته  د حامد کرزی موقت حکومت په افغانستان کی جوړ کړ، نو داسی فکر یی وکړ چی ګوندی نوره ستونزه نشته او د افغانستان خاوره په مکمله توګه د دوی د هدفونو د تحقق  د پاره تیاره ده. په همدی موده کی وو چی د افغانستان په دننه کی د ارګ په مانۍ کی هغه  رټل شوي او بیکاره رو شنفکران د خپلو حقیقی خدمتګارانو په توګه د حامد کرزی په څنګ کی کښینول چی لا د پخوا نه یی د غلامی د زنځیر د پاره خپلی غاړی په تیلو غوړی کړی وی. دی نا کاره او بیکاره ډلی هم د پخوانی شوروی د مزدورانو په څیر داسی فکر وکړ چی د بیلا بیلو قرار دادونو په امضا کولو سره به امریکا د تل د پاره د دوی تر څنګ وی او د برچی په زور به سوله او ثبات قایم شی او نور به د مقاومت په نوم څوک سر را پورته نه کړی او دوی به په دوام داره توګه د قدرت په ګدی ناست پاتی شی.
د دوی دا محاسبه د امریکا د پاره د قبول وړ ونه ګرځیده، ځکه د (سی،آی،ای)د سازمان د معلوماتو او په افغانستان کی د امریکا یی جنرالانو د مشاهداتو نه داسی نتیجه تر لاسه شوه چی ( باید په افغانستان کی سمدستی ثبات را نه شی او ځپل شوی طالبان باید د کرزی لاس پوڅی زعامت ته د تسلیم سر ټیټ نه کاندی) ځکه چی د طالبانو د تسلیمیدو نه وروسته بل داسی قوت نشته چی د هیواد په دننه کی د جنګ جګړی اور بل وساتی ، او که د جنګ اور بل نه وی نو بیا د امریکا د نظامی حضور د د پاره دلته څه اړتیا ده؟ د دی د پاره چی دا اړتیا په ملی او نړیواله سویه محسوسه شی نو باید چی طالبان د یوی تهدیدونکی قوی په بڼه بیا سر راپورته کړی. د امریکا زمامدارانو د خپلو ناټو د سازمان

د غرو سره په مشوره د افغانستان په دننه کی د نا امنی او بی ثباتی د پاره یو اوږد مهاله پلان جوړ کړ چی لاندی برخی پکی شاملی وی.
ـ د مخدره موادو سره په تړا و کی د مافیه وی اقتصاد پیاوړتیا.
ـ د زور واکانو له خوا د عامه شتمنیو چور چپاول.
ـ په قدرت او ثروت باندی د جنګسالارانو او زور واکانو تسلط.
ـ د فساد او او بی عدالتۍ له سره بیا احیا کیدل.
ـ د پاکستان، سعودی عربستان، اسرائیلو، ایران، او د نورو عربی هیوادونو او د شیخ نشینو اماراتو د جاسوسی د سازمانو په مرسته، د پاکستان په خاوره کی د طالبانی تحریک بیا را ژوندی کول.
ـ د دولتی اشتراک نه بیرون وسله لرونکو جنګسالارانو ته د دی زمینه برابرول چی د پخوا په څیر د وسلی په زور جنګ ته د خپل قدرت د ساتلو په منظور د ملیشای ځواک په توګه ادامه ورکړی.
ـ او بلاخره د منطقی په سطحه ټولو داخلی او خارجی لویو او وړو قوتونو ته د دی جنګونو په دوام کی د خپلو ګټو د تعقیب اجازه ورکول. او په دی توګه د افغان دولت د دولتی ځواکونو او مخالفو وسله والو تر منځ د یوه بی هدفه او نا معلوم جنګ د پاره تیاری نیول.
دا او داسی نو ر ټکی په افغانستان کی د جنګ د دوام د پاره د یادو شو هیوادونو د جاسوسی سازمانو ته ور په ګوته شول او هر سازمان په خپله برخه کی په کار پیل وکه. جنګ را ژوندی شو. جنګ اوږد شو. جنګ حمایه شو. جنګ د دی لامل شو چی د خارجی پوځونه په افغانستان پاتی شی، او جنګ و کولای شول چی افغانانو ته د دی موقع په لاس ورنه شی چی په خپله خوښه د خپل هیواد د پاره یو ملی او په خپلو خلکو متکی زعامت د ټاکنو له لاری را منځ ته کړی، بلکی خلک یی دی ته مجبور کړل چی د لیډر شیپ د پاره د امریکا او غرب کاندیدانو ته رایه ورکړی. دا کاندیدان بیا باید بله ډرامه جوړ کړی ترڅو بیا دیته زمینه برابره شی چی امریکا نه هیله وشی چی راشی او دوی ته د حکومت کولو د پاره د ملی وحدت په نوم نوی زعامت وټاکی، او ملت ورنه د یوه بل بحران د مخنیوی په خاطر مننه هم وکړی.
د افغانستان د سوداکرۍ او صنایعو د خونی دځرګندونو له مخی په افغانستان د هری ورځی د جنګ مصارف دری ملیونه ډالره دی، چی کلنی جنګی مصارف یی له لسو ملیاردو ډالرو نه هم اوړی.(په دی محاسبه کی انسانی او مالی تلفات نه دی شامل) ( ندای آزادی نشریه اوم مخ)
اوس چی خبره داسی ده چی استعماری او اشغالګر طاقتونه زمونږ د هیواد په بیلو بیلو سیمو کی د نړیوالو تروریستی ډلو نه را نیولی تر د محلی ارتجاعی حلقو پوری، د پاکستان ، ایران، چین، روسیی، هندوستان، ترکیی اونورو هیوادونو د جاسوسی د سازمانو تر مشورو پوری، د ټول وسیلو او ابزارو نه لکه: موجود دوه سری دولت، طالب، داعش، جنګسالاران او حتی مدنی ټولنو نه د جنګ د دوام د پاره کار اخلی نو په داسی حالاتو کی به د سولی او ثبات د راتلو خبری څومره د افغانانو ذهن ته سمی ښکاره شی؟ ځکه افغانان پو هیږی چی په دی جنګ کی امریکا د خپلو حریفانو د مات لاری لټوی، پاکستان او هند د دوه سختو رقیبو دولتونو په څیر په دی جنګ کی په خپلو ګټو پسی ګرځی، سعودی عربستان او ایران د دوه سترو مذهبی او سیاسی حریفانو په توګه په افغانستان خپلی ګټی تعقیبوی او له دوی څخه هریو په افغانستان د ننه د ځان د پاره ملاتړی لری، نو په داسی حالاتو کی به د د پنځو بی صلاحیته منځه ګړو هلی ځلی د سولی د پاره کوم ځای ونیسی، په داسی حال کی چی دا د سولی د راوستلو د پاره منځه ګری

کسان خپله په یوی رسی پوری را ځوړند ښکاری. دا ټول هغه څیزونه دی چی د دی په وجود کی افغنستان ته هیڅکله سوله نه شی راتللی او نه به په دی هیواد کی داړ من ثبات را منځ ته شی.

روانو حالاتو ته په پام کی نیول سره د سولی د راتلو د پاره تر ټولو د مخه د یوی داسی ستراتیژی جوړولو د پاره اړتیا ده چی د جنګ د ضد او د سولی د طرفدارو ملی قوتونو له خوا د ملی ګټو د تامین په منظور د عملی کار د پاره را منځ ته شی، تر څو د ټولو نه مخکی ټول هغه عوامل چی د سولی د راتلو په لار کی خنډونه جوړوی وپیژنی او هغه په عملی اجندا کی ور داخل کاندی. دا کار باید نه د دولت له خوا او نه ددولت د مخالیفنو له جوا تر سره شی بلکل د ا د مدنی ټولنو له خوا بی له دی چی د مذهبی، سیاسي، سمتی، قومي، ژبني او نورو تاثیراتو لاندی راشی باید د سولی کار ته ادامه ورکړی او په پوره حوصله خپل کار مخ ته یوسی. دا مدنی ټولنی باید و پوهیږی چی که د ملی ګټو خلاف ګام پورته کړی، او یا د کوم شوم پلان په افشا کیدو کی له کوم قوت نه ډار وکړی بی له دی چی و پوهیږی، دوی به هم د اشغالګرانو او یا د تجاوزکونکو په ډله کی ور داخل شوی وی. دوی باید په خپل کار کی یواځی او یواځی په خپل خدای ج او خپلو خلکو اتکا ولری، تر څو و کولای شی چی د یوه ملی قوت په توګه ټول هغه داخلی او خارجی ناولی لاسونه لنډ کړی چی د دوی وطن ته د سولی د راتلو او د ثبات او ټیکاو مخنیوی کوی. دوی باید خپله افغانی ټولنه په دی قانع کړی چی هم د یرغلګرو او د هغوی د پلویانو او هم د شاته تلونکو او تیارو را وستونکو حاکمیت، په دی هیواد کی د سولی د راتلو او د یوه خپلواک هیواد د جوړیدو مخه نیسی او بس. پای

جنوری ۲۰۱۷/۰۱/۲۲

تورنتو ـ کانا دا